مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲۴/۰۱/۰۱

# له پوهې او پوهانو ویره

## ولې؟

له پوهې و پوهانو څخه د واکمنو ویره نوې نه ده. له ډېرو لرغونو زمانو څخه ګڼ داسې روایتونه راپاتې دي، چې مستبدو واکمنو د خلکو پوهېدل د خپلو واکمنیو د زوال په مانا انګېرل او هڅه یې کوله خلک بېخبره او ناپوهه وساتي.

عجیبه دا ده، چې د ښځمنو له پوهنې څخه دا ویره دوه چنده زیاته وه او لا هم ده. مستبد واکمن له پخوا دې ته متوجه وو، چې د ښځو پوهه د باخبره او پوهو نسلونو د زیاتېدو لامل ګرځي. د ټولنیز ساینس پر بنسټ د ښځمنو پوهه او له علمي مسایلو خبرېدل په ټولنه کې د پوهې د خپرېدو بهیر چټکوي او له دې نظره مضاعفه او متصاعده پراختیا رامنځته کوي. د ښځو زدکړه ټولیز او ټولنیز تفکر په خپل توان کې ضربوي او پوهه داسې په چټکی خپرېږي، لکه د سرې اور.

### یوه پیداګوژیکه نظریه:

روزنپوهان فکر کوي، چې د نارینه وو پوهېدل، پوهول او زده کړه په دې مانا ده، چې خلک په پوهنې پسې ځي. خو که ښځې په پوهنو سنبال شوې، دا په دې مانا ده، چې پوهنه په خلکو پسې کورته راغلې ده.
د تاریخ په اوږدو کې ټولو مستبدو، بنسټپالو یا پر مذهبي افراط ولاړو واکمنیو د پوهنې او په تېره بیا د ښځینه زدکړو په وړاندې مخالفت او حساسیت ښوولی. لامل یې نه فرهنګي – دودیز دی، نه اخلاقي – مذهبي، بلکې اصلي او حقیقي لامل یې د خلکو له شعوري ویښتیا او روښانتیا څخه د واکمنو ویره او ډار دی.

مثبته علوم ( ریاضیات، فیزیک، بیولوژي، جغرافیه، کیمیا او نور) د طبیعت په اړه تفکر ته لاره هواروي او بشري علوم د ټولنیز نظم بنسټونه پیاوړي کوي. د علومو ځانګړنه دا ده، چې نويکېدونکي Renewable او په ورځېدونکي Updatableدي او هره ورځ د نویو تجربو او موندنو پربنسټ نویو پایلو ته رسیږي. هغوی چې په ولاړو، ډبرهشویو (متحجرو) او ساکت و صامت نظریو باورمن دي، د مثبته علومو له دغې نويکېدونې ځانګړنې څخه سخته کرکه او ویره لري.

په ۱۵۱۲ میلادي کال کې پولندي – جرمني پوه نیکلاس کوپرنیک دا نظریه وړاندې کړه، چې زمکه پر لمر راڅرخي، کاتولیکي کلیسا د دې نظریې پلویان وځپل. شاوخوا سل کاله روسته ایټالیایي پوه، ګالیلو، چې د شمسي نظام حقیقت او د کوپرنیک نظریه یې د خپل جوړکړي تلسکوپ په مرسته ثابته کړې وه، د کاتولیکي کلیسا له خوا محکمه شو، نږدې و محکمه حکم وکړي، چې ګالیلو ژوندی په اور کې وسیزل شي، خو ده له خپلې نظریې رسماً توبه وایستله، ګڼ شمېر پوهان په دې باور دي، چې د ګالیلو علمي موندنې د مسیحي اروپا په زړو باورونو کې درزونه رامنځته کړل. که څه هم ګالیلو توبه وایسته، خو هماغسې چې زمکه پر لمر راڅرخېده او شمسي نظام یو علمي حقیقت و، هماغسې خلک تفکر ته اړ شول او په دې پوه شول، چې په ګڼو برخو کې کلیسا او په کلیسا پورې تړلې واکمنی پېړۍ پېړۍ دوی ته دروغ ویلي دي. ګالیلو توبه وایسته، خو په خپله علمي موندنه یې د کلیسا زرکلنې واکمنی ته د پای ټکی کېښود.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د کلیسا او له هغې سره تړلیو اروپایي مستبدو واکمنیو لمن پوهنې ورټوله کړه. نوې اروپا نه صلیبي جګړو رامنځته کړې او نه هم خپلمنځي څوسوه کلنو جنګونو. رینېسانس یا بیاویښېدنه د علمي، فرهنګي او هنري انقلابونو په پایله کې رامنځته شوه. د بشریت همدغه ځلانده تجربه بس ده، چې مستبدې او متحجرې واکمنۍ له پوهې او پوهانو څخه د مرګ تر بریده وویریږي.

قرانمجید بیا بیا په «تفکر» ټینګار کوي. تفکر یوه پروسه ده، یعنې د باور له یوه ټکي تر بل ټکي پورې د مختګ او عروج پروسه. تاسو باید د پوهې و تفکر په مرسته له پرون څخه نن او له نن څخه سبا ته مختګ وکړئ او د کایناتو، طبیعت، ژوند، ټولنې، انسانانو او د انساني ژوند د شرایطو په اړه نویو پایلو ته ورسیږئ، له بده مرغه سیاسي کړای شوی دیني پوړ د سپېڅلي کتاب دغه مکرر حکم ته پام نه ساتي او له ټولنې څخه د تفکر امکانات د دې لپاره تروړي، چې خلک د تفکر په وسیله هوښیار، ویښ او روښانه نهشي، خپل حقونه ونهپېژني او بدلون و انقلاب ته لاره هواره نه کړي.

مونتسکیو د روح القوانین په نهم فصل کې «د استبدادي حکومت اصول» تر سرلیک لاندې لیکي:
«په استبدادي حکومت کې د ډار وجود اساسي شرط دی، هلته تقوا لازمه نه ده او شرافتلرل خطرناک دي. په استبدادي دولت کې واکمن له ټولو هغو کسانو ډارېږي، چې ځان ته ارزښت قایل دي او کړلای شي انقلاب تولید کړي، په دې برخه کې هر جسارت ځپل کیږي او د حقغوښتنې تر ټولو کوشنی حس هم وژل کیږي.»

پوښتنه دا ده، چې څوک ځانته ارزښت قایل دی؟

ځواب څرګند دی :هغوی، چې خپل انساني حقونه پېژني او په ټولنه کې د خپلې سیاسي- شعوري ارادې پلي کول غواړي.

امیرحبیب الله خان په ۱۹۰۳ کې د حبیبیې لیسه پرانیسته او د عصري علومو تدریس پیل شو، له دې سره د ویښتیا او روښانتیا وړانګې خپرې شوې. لومړی مشروطیت رامنځ ته شو او د خلکو په ګټه د قوانینو تصویب وغوښتل شو. د اصلاحاتو او سمون نهضت له حبیبیې لیسي سر راپورته کړ. د مشروطه غوښتونکیو یوه غوښتنه دا وه، چې شاهي دې په ریاستي نظام بدله شي. امیرحبیب الله خان وډار شو او مشروطیت یې د توپ خولې ته وتاړه. حبیبیې لیسه او د معارف نهضت له پامه وغورځېد، تر دې بریده، چې نایبالسلطنه سردار نصرالله خان امیر ته وړاندیز وکړ، چې ټول معارف وتړي، ځکه: « له معارف څخه مشروطه رازیږي او مشروطه د سلطان د شرعي واکمنۍ پر ضد ده«!
خو د دې پرعکس، اعلیحضرت شاه امان الله چې غوښتل استبداد له منځ یوسي، لومړنی پیل یې له معارف څخه وکړ. ګڼې لیسې و ښوونځي یې جوړ کړل، اخبار یې خپور کړ، راډیو او د ویښتیا نور وسایل یې راوړل. مترقي پاچا د ښځو په پوهنه ځانګړی ټینګار کاوه، د ښځو ښوونځي یې پرانیستل، ارشادالنسوان خپورشو او د لومړي ځل لپاره افغان نجونې د لوړو روغتیایي زدکړو لپاره بهر ته واستول شوې.

اماني واکمنی د خلکو له پوهېدو او پوهنې نهویرېده. شاه امان الله پوهېده، چې لوستي او پوه خلک د ده د واکمنۍ ملاتړي دي، نه دوښمنان.

ټولې روښانه او ملي واکمنۍ هڅه کوي، خلک وپوهوي، له خپلو حقونو یې خبر کړي او خپلو ټولو قانونمنده حقونو ته د وررسېدو په مبارزه کې ورسره مرسته وکړي.

پوهاند عبدالحی حبیبي په خپل کتاب «جنبش مشروطیت» کې د اروابناد عبدالهادي داوي په اړه د سردار محمد هاشم خان یوه جالبه خبره رانقل کړې ده، استاد حبیبي لیکلي:

«... پریشان (عبدالهادي داوي) ورو او سنجیده خبرې کولې او اورېدونکي په تېره ځوانان یې په کراره تر اغېز لاندې راوستل، د محمدهاشم خان د کابینې په دوران کې بندي و، کله چې د صدارت مشاور سیداحمدخان کندهاري محمدهاشم خان ته وریاده کړه، چې که دغه بېازاره سړي (داوي) ته له توپ او ټوپکو سره یوځای یوه منظمه فرقه ورکړل شي هم دی د چا په ضد دغه ځواک کارولای نهشي، نو ولې مو بندي کړی دی؟

محمدهاشم ورته ویلي وو: تاسو دا سړی نه پېژنئ، له خپلې دغې ارامې و صالح څېرې سره یې هره خبره د توپ له ډزو ډېر اغېز لري.»

مستبدې واکمنۍ له لښکرو نه، بلکې د پوهانو له خبرو ویریږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په افغانستان کې شل کاله معارف او له نړۍ سره ژونديو اړيکيو ګڼ خلک له فکر کولو سره عادت کړي دي، لوستي او په علومو سنبال خلک فکر کوي او لاتراوسه د سانسور داسي دستګاه جوړه شوې نه ده، چې خلک دې له فکر کولو راوګرځولای شي. همدا کافي ده، چې خلک د خپلو حقونو، برخليک، ژوند او د ژوند د شرايطو په اړه فکر وکړي . خلک اوس پوهيږي، چې پوهېدل او فکر کول ګناه نه ده.

د بشري ټولني ځانګړنه همدا ده، چې فکر کوونکي انسانان بالاخره د خپل حالت د مثبت بدلون لپاره عمل هم کوي . پوهنه په انسانانو کې د فکر کولو او عملي پايلي ته د رسېدلو توان روزي. استبداد، تحجر، بنسټپالنه او شاتګپالنه د پوهني په وړاندې داسي ده، لکه د لمر په وړاندې کنګل.

تاسو به پر ګاليلو توبه وباسئ، خو لمر به د شمسي نظام منځی وي او زمکه به پرې راڅرخي. استبداد که زرکاله هم دوام وکړي، ځان پوهول انساني غريزه ده، دا غريزه به بالاخره ډارن انسانان هم د خپلو حقونو ترلاسه کولو لپاره عمل کولو ته اړ کړي او استبداد به راوپرځيږي. دا د تاريخ دود دی او دا دود بدلېدلای نه شي.

**ويښتيا، روښانتيا او بدلون**





افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ